غور پوهنتون
ښوونې او روزنې پوهنځی
د پښتو ژبې او ادبیاتو څانګه

# پښتو څانګې معرفی نامه

# Pashto Department Catalog

۱۴۰۵هـ.ل

بسم الله الرحمن الرحيم

# ځانګړنې

**سرلیک: د پښتو ځانګې د کتلاک پېژندنه**

**جوړونکی: د ځانګې امریت**

**اړیک شمېره: 0093789848734**

**د پښتو ځانګې کتلاک بیا کتنه وشوه او د لوستنې وروسته د تایید وړ شو. د ځانګې د عونډې کتاب د ۱۲ /۲/ ۱۴۰۵ نېټې په (۲) نمبر پروتوکول او (۲) ګڼه کې ثبت صحت لري.**

# لیکلړ

**سرلیک**
**مخ**


۱. د څانګې امر پیغام ........ 4
۲. سریزه ........ 5
۳. د پښو ژبې او ادبیاتو څانګې پېژندنه ........ 5
۴. د پښتو ژبې او ادبیاتو څانګې اړتیا ........ 5
۵. د څانګې لیدلوری/ Vision ........ 6
۶. ماموریت/ mission ........ 6
۷. موخې/ اهداف : Goal ........ 6
۸. د پښتو څانګې اختصاصي مضمونونه ........ 6
۹. د پښتو څانګې تشکیلاتي جوړښت ۱۴۰۵ ل کال ........ 7

## ۱. د څانګې امر پیغام

اَلْحَمْدُ للهِ رَبِّ العَالَمِيْنَ وَالصَّلاَةُ وَالسَّلَامُ عَلىَ اَشْرَفِ اْللأَنْبِياَءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ سَيِّدِناَ وَمَوْلَنَا مُحَمَّدٍ وَعَلَى اَلِهِ وَصَحْبِهِ اَجْمَعِيْنَ, اَمَّا بَعْدُ

ډېرو درنو او قدرمنو لوستونکو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

غور پوهنتون، د ښوونې او روزنې پوهنځي په جوړښت کې د پښتو ژبې او ادبیاتو څانګه په ۱۳۹۴هـ ش کال کې ایجاد شوې ده او له هماغه مهاله یې خپل فعالیت راپیل کړی دی.
پښتوژبې او ادبیاتو څانګه د محترم لوړو زدهکړو وزارت د لایحې او اوامرو له مخې خپل علمي او څېړنیز کارونه عملي کوي، په دې بنسټ د پښتوژبې او ادبیاتو څانګې تر ننه پورې ټولنې ته یو شمېر مسلکي ښوونکي او علمي کادرونه وړاندې کړي چې په دې کې یو شمېر یې عملًا په خدمت بوخت دي، دا چې د انسانانو د ژوند پرمختګونه مستقیماً علم او پوهې پورې تړلي، نو په دې برخه کې د پښتو ژبې او ادبیاتو څانګه ځانګړی رول او ځای لري، که چېرې غواړو د نړۍ د پرمختګونو د کاروان سره سم حرکت وکړو. د ګاونډیو هېوادونو سره په علمي ډګر کې سیالي وکړو، نو باید چې د ژبې اړوند زدهکړه په اساسي ډول وکړو او د الله تعالی د خلقت پېښې پهکې ولټوو، نو په همدې اساس زه د لوړو زدهکړو وزارت، پوهنې وزارت او د پښتو څانګې د استادانو نه هیله کوم چې په دې برخه کې لازمي اسانتیاوې برابرې کړي، څو مو د الله تعالی، دین، ژبې، کلتور او هېواد په وړاندې خپل مسوولیت په سمه توګه ادا کړی وي. د پښتو څانګې محصلانو نه مې دا غوښتنه ده چې د شته امکاناتو او وخت نه سالمه او سمه ګټه واخلي چې یوه ښه راتلونکې ولرو.

په خورا درنښت

پوهنمل عبیدالله اغېز

د پښتوژبې او ادبیاتو څانګې امر

## ۲. سریزه

دا چې ژبه د انساني ټولنې د رغښت او پایښت بنسټ دی او ټول علوم او فنون د همدې وسیلې په اساس د وګړو تر منځ لېږد او رالېږد مومي، نو د پښتو ژبې او ادب لپاره یو منظم سېستماتیک تحصیلي پلان له مخې یو ښه او معیاري نصاب لري چې د همدې نصاب په مرسته به د پښتو څانګې په لوستلو سره محصلان وکولی شي چې سمه ژبه، د څېړنې، لیکنې او تحلیل بېلابېلو تکنیکونو، ډولونو او نوو میتودونو سره پوره بلد شي.

د دې ترخوا به وکړای شي د ژباړې په اصولو پوه او ټولنې ته مسلکي ښوونکي، ژباړونکي او څېړونکي په توګه وړاندې شي چې په دې برخه کې یاده څانګه تر یوه حده بریالۍ او کامیابه ښکاري. همدارنګه پښتو څانګه د پښتو ژبې او ادبیاتو په برخه کې مسلکي کادرونه روزي، د مسلکي ښوونکو روزنه په غاړه لري او د ژبې اړوند بېلابېلو برخو کې اړوند مسلکي غړي د ټولنې چوپړ او خدمت ته وړاندې کوي.

پښتو څانګې هڅه کړې ده چې د پښتو ژبې او ادب سره د محصلانو آشنایي زیاته کړي. دې څانګې د پښتو فوکلور او خپل اصلي افغاني کلتور د له منځه تلو مخنیوي لپاره خپل محصلان هڅولي او دندې ورکړل شوي چې د ګران هېواد د بېلابېلو سیمو فوکلور راټول او د خپلو سیمو فوکلوري توکي خوندي کړي چې د له منځه تلو مخه یې ونیسي.

## ۳. د پښو ژبې او ادبیاتو څانګې پېژندنه

د پښتوژبې او ادبیاتو څانګه د غور پوهنتون، د ښوونې او روزنې پوهنځي په جوړښت کې په ۱۳۹۴ هـ. ل کال د دوو کادري بستونو په لرلو سره خپل فعالیت پیل کړی. اوسمهال څلور تنه کادري غړي لري چې په تدریسي او څېړنیزو چارو پوخت دي. دې څانګې پینځه دورې فارغان ټولنې ته وړاندې کړي دي چې زیاتره په دولتي او خصوصي سکتورونو کې په دندو ټاکل شوي او د ټولنې په پرمختګ کې یې خورا مهم رول لوبولی دی. اوسمهال یاده څانګه دوه ټولګي لري.

پښتو څانګه د ښوونې او روزنې پوهنځي په اډانه کې له کارنده تحصیلي څانګو شمېرل کېږي چې موخه یې د معیاري نصاب په اډانه کې د پښتو ژبې او ادبیاتو په برخه کې د متخصصو کادرونو او مسلکي کارپوه ښوونکو روزنه ده.

## ۴. د پښتو ژبې او ادبیاتو څانګې اړتیا

پښتو د هېواد ملي-رسمي ژبه ده، ټولې رسمي، نارسمي چارې په همدې ژبه ترسره کېږي، د دې ژبې متخصصو او کارپوه کادرونو ته د هېواد په ټولو دولتي او نادولتي ادارو کې اړتیا ده.

په تېرو کلونو کې ګومارل شویو کسانو په اړه له ګومارونکو نظریاتو د پوښتنپاڼو او مرکو له لارې راټول شول، په دغو پوښتنپاڼو کې د دې څانګې فارغانو ته د اړتیا او فارغانو مهارتونو په اړه له ګومارونکو او فارغانو نه ځیني پوښتنې شوې وې، د دې معلوماتو او کتنو د شننې په پایله کې جوته شوې چې پر پښتو ژبه او لیک پوه کسانو ته د هېواد په ټولو ادارو کې جدي اړتیا ده او دا چاره د په پوهنتونونو کې د پښتو ژبې او ادبیاتو څانګې له فعالیت پرته ناشونې ده.

د دغو اړتیا پوره کولو په موخه د دې ځانګو نصاب هم د بازار له اړتیا سره سم جوړ شوی دی. له دې ځانګې او نصاب څخه فارغان به پوهنیزو او ښوونیزو بنسټونو کې پر تدریس سربېره د ټولو دولتي او نادولتي ادارو په ځانګړي ډول د پوهنې وزارت، اطلاعاتو او کلتور وزارت، کار او ټولنیزو چارو وزارت، او نورو پوهنیزو او ښوونیزو بسټونو دغه اړتیا پوره کړي.

## ۵. د ځانګې لیدلوری/ Vision

د پښتو ځانګه د علمي برنامو او کادرونو پر مټ د ټولنې له اړتیاوو سره سم د تحصیلي خدماتو او علمي څېړنو په مرسته د هېواد په کچه د علم تولید، په اسلامي، ملي او مسلکي روحیه د ښوونکو په روزلو کې کارنده ونډه ترسره کوي.

## ۶. ماموریت/ mission

د افغان نسل روزنې په موخه اسلامي او ملي ګټو ته د ژمنو، متخصصو او مسلکيکارپوه ښوونکو روزل، د پښتو ژبې او ادبیاتو د ودې او بډاینې لپاره ټولنې ته د لیکوال، ژباړونکي، کره کتونکي او په نورو ادبي او ټولنیزو مسایلو پوه او مسلکي کسانو روزل خپل ماموریت ګڼي.

## ۷. موخې/ اهداف : Goal

۱. په اسلامي او ملي روحیه ژمن، په کار پوه او مسلکي ښوونکي او اشخاص روزل؛
۲. د محصلانو املایي سمون (سم لیکل او سم لوستل ) او نورو مهارتونو لوړول؛
۳. د تدریسي مېتودونو سره د محصلانو بلدتیا او د هغه عملي کارونه؛
۴. د پښتو ژبې او ادبیاتو کې د څېړنې، کره کتنې او لیکوالی په اصولو د محصلانو پوهول؛
۵. له اسلامي او ملي ارزښتونو سره د محصلانو اشنا کول؛
۶. د وخت او ټولنې له غوښتنو سره سم منظمې څېړنې ترسره کول؛

## ۸. د پښتو ځانګې اختصاصي مضمونونه

| کریډیت | کوډ نمبر | د مضمون نوم | ګڼه | کریډیت | کوډ نمبر | د مضمون نوم | ګڼه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | Li Pa355 | کلتور تاریخ | ۲۱ | ۲ | Li Pa.111 | فونولوژي | ۱ |
| ۲ | Li Pa356 | پښتو ژبې تاریخ | ۲۲ | ۳ | Li Pa.112 | د ژبپوهنې بنسټونه | ۲ |
| ۲ | Li Pa361 | ادب تاریخ( معاصر ۱) | ۲۳ | ۲ | Li Pa.113 | ګرافیم پیژندنه | ۳ |
| ۲ | LiPa.362 | متن – نثر( معاصر ۱) | ۲۴ | ۳ | Li Pa.121 | د ادبپوهنې بنسټونه | ۴ |
| ۳ | LiPa.363 | ادبي څېړنه | ۲۵ | ۳ | Li Pa. 122 | لیکوالي | ۵ |
| ۲ | Li Pa.36 | قافیه پوهنه | ۲۶ | ۲ | Li Pa. 123 | مورفولوژي | ۶ |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | عرفاني ادبيات | Li Pa 124 | ۳ | ۲۷ | سبک پوهنه | Li.En365 | ۲ |
| ۸ | ادب تاریخ (لرغوني دوره) | Li Pa.231 | ۲ | ۲۸ | تاریخي مقایسوی ژبپوهنه | Li Pa.36 | ۲ |
| ۹ | متن ـ نثر( لرغوني) | Li Pa. 232 | ۲ | ۲۹ | ګړدود پوهنه | Li Pa.37 | ۱ |
| ۱۰ | بديع | Li Pa233 | ۳ | ۳۰ | ادب تاریخ (۲) | Li Pa471 | ۳ |
| ۱۱ | نړی ادبیات(لویدیځ) | Li Pa. 234 | ۲ | ۳۱ | متن نظم( معاصر) | متن ـنظم | ۳ |
| ۱۲ | غوندله( جمله) پوهه | Li Pa 237 | ۴ | ۳۲ | د ژبي تدريس اصول | Li Pa473 | ۲ |
| ۱۳ | ادب تاریخ(روښان او خوشال) | Li Pa241 | ۲ | ۳۳ | ادبـي کره کتنه | Li Pa474 | ۳ |
| ۱۴ | متن نثر ( منځنی دوره) | Li Pa. 242 | ۲ | ۳۴ | پایلیک | Li Pa 475 | ۴ |
| ۱۵ | بیان | ssHis246 | ۲ | ۳۵ | ادب تیوري | Li Pa481 | ۲ |
| ۱۶ | نړی ادبیات ( ختیځ) | Ns.Env248 | ۲ | ۳۶ | تدریس زده کړه | Li Pa482 | ۴ |
| ۱۷ | ادب تاریخ( رحمان او حمید) | Li Pa351 | ۲ | ۳۷ | خوشحال پیژندنه | Li Pa483 | ۲ |
| ۱۸ | متن نثر(معاصر لومړی پړاو) | Li Pa352 | ۲ | ۳۸ | ژباړې فن | LiPa484 | ۲ |
| ۱۹ | لغت پوهنه | Li Pa353 | ۲ | ۳۹ | وزنپوهنه | LiPa485 | ۲ |
| ۲۰ | ماشوم ادب او فولکلور | Li Pa34 | ۳ | ۴۰ | حماسي ادبيات | Li.Pa 486 | ۲ |
| | | | | ۴۱ | ادب تاریخ( ۳) | LiPa.489 | ۲ |

## ۹. د پښتو څانګې تشکیلاتي جوړښت ۱۴۰۵ ل کال


د پښتو ژبې او ادبیاتو د څانګې تشکیلاتي جوړښت د علمي رتبو، د تحصیل درجې او نورو ځانګړتیاوو د تفکیک سره په لاندې جدول کې وړاندې شوی دی.

**د پښتو څانګې د استادانو پیژندنه**

| ګڼه | نوم او تخلص | د پلار نوم | د تحصیل کچه | څانګه | علمي رتبه | کاري تجربه | د تحصیل ځای/ پوهنتون | | د اړیکو شمېره |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | عبیدالله اغېز | سیداجان | ماستر | پښتو ژبه ادبیات | پوهنمل | ۷ | افغانستان | ننګرهار پوهنتون | ۰۷۸۹۸۴۸۷۳۴ |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2 | فریدالله اندیال | ګلبهار | ماستر | پښتو ژبه ادبیات | پوهنمل | ۶ | افغانستان | ننګرهار پوهنتون | ۰۷۸۶۹۲۸۵۸۱ |
| 3 | خان محمد مومند | ګل رحمن | لیسانس | پښتو ژبه ادبیات | نوماند پوهنیار | ۹ | افغانستان | ننګرهار پوهنتون | ۰۷۸۹۴۱۴۰۰۳ |
| 4 | حمیدالله صمیم | ګل حضرت | لیسانس | پښتوژبه ادبیات | نوماند پوهنیار | ۱ | افغانستان | غزني پوهنتون | ۰۷۶۴۰۵۰۹۰۹ |

**د پښتو څانګې تشکیلاتي جوړښت / ۱۴۰۵ لمریز**




درنښت
پوهنمل عبیدالله اغیز
د پښتو ژبې او ادبیاتو څانګې آمر